سرتور ملنګ ۲۰۱۲/۰۴/۲۷

# د ثور۷-۸، دافغان ولس د بدبختی دوه توری ورځی،

د ولسونو په تاریخ کی ډیری داسی ورځی وی چی په ځینو یی هغه ولس ویاړی او د رارسیدو لپاره یی له پخوا څخه تیاری نیسی او کله چی هغه ورځی را ورسیږی نو جشنونه کوی ، خوشحالی کوی او یو بل ته مبارکی وایی ولی ځینی بیا داسی ورځی وی چی د هغو ورځو په را رسیدو باندی خلک ماتم کوی او هغه په ډیر ویر او ماتم لمانځی.

زموږ دهیواد په تاریخ کی هم همداسی ورځی شته چی خلک ورته ډیرخوشحاله وی لکه اخترونه او همدارنګه دآ سد ۲۸ د برتانوی استعمار څخه د ازادی ورځ. چی دا ټولی ورځی خلک په ډیر ویاړ لمانځی خلک نوی جامی آغوندی د یو بل کورونو ته ورځی او یو بل ته مبارکی وایی ولی داسی توری ورځی هم لرو چی خلک هغه ورځی د ویر او ماتم ورځی بولی او دهغو نه کرکه کوی لکه د ثور ۷-۸ او دجدی ۶ . دا هغه توری ورځی دی چی خلک یی زموږ د هیواد د بد بختی ورځی بولی او د دی ورځو په اصلی لو بغاړو باندی نفرین وایی.

د۱۳۵۷ کال د ثور ۷ هغه ورځ ده چی په دی ورځ روسی پلوه ټیټ رتبه عسکری پو ځیانو د افغانستان د خلک د دموکراتیک ګوند تر رهبری لاندی کودتا و کړه او د سردار محمد داود خان منتخب جمهوری نظام یی ړنګ او سردار محمد داود خان او د هغه د کورنی ټول غړی چی په هغو کی ماشومان او ښځی هم شامل وو په ډیره بی رحمی سره ووژل. دی بی دینو او روسی مزدورانو حتی پس له وژلو بیا هم اجازه ورنکړه چی د هغوی جسدونه د اسلامی مقرراتو سره سم خاورو ته وسپارل شی بلکی ټول یی په یوه لوی قبر کی یو ځای تر خاورو لاندی کړل. سر دار محمد داود خان په ډیره میړانه او شهامت سره په داسی حال کی چی د هری خوا نه محاصره وو او د هوا نه وربادی بمونه اوریدل تر ۲۰ساعتونو پوری مقاومت وکړ او کله چی پوه شو چی نور د بریالیتوب امکان نشته نو د یوه مدبر او با تجربه جنرا ل په حیث یی خپل پو ځی افسران را و غوښتل او پرته له دی چی خبل مورال له لاسه ورکړی هغوی ته یی وویل چی زامنو زه نه غواړم تاسو ووژل شی تاسو ځوانان یاست او باید ژوندی پاته شی نو زما دستور داده چی تاسو باید ځانونه تسلیم کړی او ما خپل تصمیم نیولی ده. د افغان و لس ستر قهرملان( شهید محمد داود خان) خپلو افسرانو ته د تسلیمیدو هدایت ورکړ ولی په خپله یی د تسلیمیدو څخه ډډه وکړه او کمونستانو ته تسلیمیده یی د ځان او کورنی لپاره شرم بلل. هغه کولای شول چی تسلیم شی ځان او خبله کورنی د مرګ څخه و ژغوری ولی دا کار یی و نکړ او د بی ننګی تر ژوند یی مرګ غوره و باله او همدا دلیل ده چی نن ورځ موږ ټول د هغه په میړانه او وطنپالنه باندی ویاړو. په دنیا کی ډیر داسی رهبران تیر شوی چی کله په قدرت کی وو نو ځانونه به یی قهرمانان بلل او خلک به د هغو له سیوری ډاریدل ولی کله به چی د مرګ سره مخامخ شول نو ژړل به یی او یا به یی چیغی و هلی ولی داسی رهبران ډیر کم وی چی د مرګ په وخت کی هم خپل اسلام او غیرت و ساتی او خبل مرګ ته په ورین تندی ورشی. زما په یاد دی چی کله د رومانیا دیکتاتور خلکو ونیول او د خبلی میرمنی سره یی په جیپ موټر کی د اعدام ځای ته وړل نو اعصاب یی له لاسه ورکړی وو او د لیونیانو اکټونه یی کول همدارنګه بوټو د پاکستان صدراعظم هم د اعدام نه مخکی په ژړا وو ولی سر دار محمد داود خان تر اخرنی سلګی پوری پرته له ډار او ویری په پوره میړانه د کمونستان سره و جنګیده او بالاخره یی د شهادت مقام تر لاسه کړ هغه پوهیده چی خاینانو ته تسلیمیده د هغه لپاره شرم او آبدی پیغور ده . هغه د افغان ولس سره مینه درلوده او د ولس د خدمت لپاره یی په خپل د اکا په زوی کودتا و کړه تر څو هیواد او خلکو ته خدمت و کړی او دافغانی او ملی غرور په درلودلو سره یی د وخت د ستر سوپر پاور رهبر برژنیف ته په مجلس کی وویل چی موږ به غریب یو ولی بی غیرته نیو او د پردیو تر قومانده لاندی نشو کولای ژوند و کړو د برژنیف له مجلس څخه ولاړ شو او بیرته خپل هیواد ته راغی. روح دی تل شاد وی او الله دی جنت فردوس ځای کړی. دافغان ولس لپاره په کار ده چی د ثور په ۷ د دی ستر قهرمان شهید لپاره دعاوی و کړی..


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د ثور کودتا چې له همغې اولې ورځې د بېګناه خلکو په وژلو شروع شوه د میلیونونو افغانانو د تباهۍ سبب شوه ، په ملیونونو افغانان شهیدان ، په ملیونونو نور مهاجر او په ملیونونو نور معیوب او لا درکه شول. د همغې ورځې تر نن پورې افغان ولس بیا دآرامۍ شپې او ورځې و نه لیدې. داسې کورنۍ پاته نشوه چې مصیبت یې نه وي لیدلی. لس کاله شوروي سور پوځ دلته پاته شو او د جګړې میدان یې ګرم و ساتل د خلکو د دموکراتیک ګوند خلقي او پرچمي نوکرانو خپل مخالفیین آشرار بلل او د هغو وژنه او مرګی مباح الدم ګڼل هغو د شوروي سور پوځ سره اوږه په اوږه د خپل هیواد په خلکو بمونه اورول اود شوروپانو سره همکاري ورته د افتخار ځاې وو. ببرک کارمل به ویل چې هغه ځوک چې د شوروپانو په دوستۍ باور نلري هغه وطن پرست کیدای نشي بلکه هغه خاین ده. شوروپان ټولې نوې وسلې په افغانستان کې وآزمویلې او د خپلو وسلو موثریت او واټن یې په وار وار تجربه کړل، د جګړې بله خوا مجاهدین وو چې هغو هم د هر افغان وژنه لوی افتخار او جنت ته د تلو لپاره یوه شرعي لار بلله. عام ولس د شوروپانو او کمونیستان په خلاف په میرانه د جهاد سنګرونه ګرم ساتل او د خبلو وینو او سرونو به بیه یې د سور بوځ سره مقابله کوله او د افغانستان هره دره او هر سنګر یې روسانو ته لوی پاڼ ګرځولی وو. مچاهدینو د هیواد د غرونو اود دښتو ګلان او بوټي به خپلو پاکو وینو اوبه کړل او د خارجي یرغلګرو ډیرې متکبرې کوپړې او جسدونه یې د دهیواد د زمریانو اوبازانو خوراک و ګرځاوو که له یوی خوا عام ولس د الله د رضا لپاره خپل سرونه نذرانه کول او په ډیره میرانه یې د جهاد سنګرونه ګرم ساتل خو د بلې خوا د جهاد په نامه رهبرانو چرچې کولې په قصرونو کې اوسیدل او د جها له برکته د ملیونونو دالرو خاوندان شول د افغان ولس له جهاد او میرانې څخه پاکستان هم ډیره ګټه پورته کړه . پاکستان د افغانستان تر جهاد مخکې یو غریب هیواد وو پوځ یې یوازې پنځه ټکه توپک درلودل یونیفورم یې هم نه درلود ولې د افغان ولس په جهاد کې د هر څه خاوندان شول د پاکستان پوځ په مودرنو وسلو سمبال شو او د ملیاردونو ډالرو مرستو به واسطه یې هیواد آباد او د آتومي وسلې درلودونکی شو همدارنګه ګلبدین ، رباني ،سیاف، مجددي، ګیلاني، خالص او نور ملیاردران شول ولې د شهیدانو او معیوبینو کورنۍ د پاکستا په ګرمۍ کې په خیمو کې اوسیدلې ، هیڅ یو په اصطلاح رهبر یوه ورځ ځان ته زحمت ورنکړ چې د هغو د حال او ژوند پوښتنه وکړي.

عام ولس ټولو لاس په دعا نیولي وو چې خدای د جهاد بریالي کړې خلکو به دځان لپاره ډوډې نلرله ولې مجاهدینو ته به یې ډوډې ورکوله ټولو دا هیله درلودله چې که خدای پاک جهاد بریالی که نو دوی به د شکرانې لمنخونه کوي. الله پاک د شهیدانو د پاکو وینو په برکت او د هغو شاه زلمیانو د سرشندنې په ویاړ چې یوازې د الله پاک د رضا په خاطر یې ځانونه قربان کړي وو جهاد بریالی کړ او د ثور په ۸ د مجاهدینو ډلې کابل ته را ننوتلې . دا چې په څه ډول د نجیب دولت سقوط و کړ او څرنګه مجاهدین کابل ته راغله دا بیا بل لوی داستان ده چې د ثور د ۸ نیټې څخه شروع کیږي:

داکتر نجیب غوښتل تر څو د یوې موافقې په اساس چې د ملل متحد د سولې پنځه فقریزه بلان په نامه شهرت درلود خپل واک یوې منتخبې شورا ته وسپاري او نور د جنګ ټغر ټول شي ولې یو ځل بیا دروسانو په مرسته د یوې بلې کودتا پلان ترتیب شو اویو ځل بیا کودتا د خلق د دیموکراتیک ګوند دببرک کارمل تر رهبرۍ لاندې د پرچم د ډلې له خوا د نجیب په مقابل کې سر ته ورسیده داکتر نجیب د ملل متحد په دفتر کې پناه واخیسته او د کابل واګې پرچمي کودتا چیانو ته به لاس کې ورغلې ، مسعود چې د نظار شورا مشروو له پرچمیانو او دوستم سره په ګډه کابل ته راغی او د ملل متحد د سولې پلان یې شند کړ. مسعود ملي اردو ټوله ړنګه کړه او ټولې مالي ذخیرې یې چور کړې. د ملي اردو ټول تجهیزات ، وسلې او مهمات یې پنجشیر ته انتقال کړل بانکونه ، موزیمونه ملکي دارایي د مسعود د لوټمارانو له خوا چور شول.

مسعود د جبلالسراج د تړون په لاسلیک سره چې د مزاري او دوستم سره یې لاسلیک کړی وو دکابل ښار ته د ګلبدین د داخلیدو مخه ونیوله او دا شعار یې ورکاوو چې نور د ښځنو د اقتدار وخت تیر شوی او نور باید د دولت واګې پښتنو ته و رنکړل شي حتی مسعود به په خصوصي مجلسو کې ویل ( به امید روزی که دیګر صدای څوک یی را نشنوم).

کله چې مسعود د ګلبدین مخه و نیوله ګلبدین جنګ شروع کړ او د کابل ښار په څلورو برخو وویشل شو د کابل غربي برخه تر دهمزنګ پورې د هزاره قوم مزاري تر کنترول لاندې وه ، جنوب طرف ته ګلبدین، ښاه شهید کارته نو او تپه مرنجان د دوستم تر تسلط لاندې او ښار نو وزیر اکبر خان د مسعود تر تسلط لاندې وی.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د کابل په ښار کی هره ورځ جګړه روانه وه هری ډلی به بل طرف په درنو وسلو او راکتونو وهل داسی ورځی به وی چی د ښار په سوه سیمه کی به تر ښځه سوه زیات راکټونه لګیدل. حتی طیارو به بمباری کوله. د کابل ښار د جنګ ډګر وو مرګونه وو جنازی وی او هر خوا به د مړو جسدونه پراته وو. د کابل د منډیی بازار او د شهزاده سرای دوه ځله د مسعود د لوټمارانو له خوا چور شول او د اسی دکان او مغازه باته نشوه چی چور شوی نه وی. وزارت خانی چی په هره سیمه کی وی چور شوی ملی موزیم چی د سلهاو ملیونو ډالرو په ارزشت تاریخی اثار په کی وو د حزب وحدت او نظار شورا له خوا چور شول،

د خلکو په ناموسونو تجاوز شروع شو هره پوسته د لنډه غرو او جنایت کارانو مرکز وو په هر پوسته کی په لسګونو جنکی او ښځی ګروګان نیول شوی وی چی په ډلیزه توګه به وربادنی تجاوز کیده.

حزب وحدت به خلک د لاری ونیول او وروسته به یی سرونه ځنی پری کړل او د رقص مرده په نامه به یی خوند ځنی اخیست. ژوندی انسانان به یی صرف د پښتون په نامه د خښتو په بټیو کی سوزول. د خلکو په سرونو میخونه تکوهل او د هغو نه لذت اخیستل عادی کار وو.

د حرکت اسلامی قوماندانانو به د دار الامان په سرک د ګرو ګانان په خوله کی د اوبو به ځای متیازی کولی او له دی کار نه به یی خوند اخیستل.هزاره قوماندانانو به ګروګان شویو نفرو ته په زور باندی چای ورکاوو او وروسته به یی د هغو مذکر و تړل او نه به برښودل چی متیازی و کړی هغه بیچاره ګان به تر هغو و کړیدل تر څو چی به یی مثانی و چودلی او مړه به شول.

هزاره قوماندانانو به هغه ښځی چی د ولادت لپاره روغتون ته تلی له مو ټره کښته کړی او کالی به یی ځنی و کښل او سیل به یی کاوو چی څرنګه ښځه ولادت کوی. د ښځو سینی به یی پری کړی او خلکو ته به یی ورکولی چی هغه و خوری.

د مسعود یوه لنډه غری چی د بوستی قوماندان وو ماته وویل چی دوی د هزاره قوم ۳۵ ښځی نیولی او ټولی لوڅی دی او په هغو باندی ډلیز تجاوز کوی هغه دا خبری ماته به ډیر افتخار کولی..

د آبشارو او کارته سه نیول او د حزب و حدت د شکست په ورځ په زرهاو بیګناه کسان ووژل شوا او په ټولو ښځو باندی د هغو د کورنیو دغړو تر مخ تجاوز و شو.

د ثور د اتمی نیټی د بدبختی داستانونه دومره زیات دی چی به سلګونه کتابونه یی هم نشی ځایولای داسی داستانونه او جنایت چی په هیڅ وخت کی نه وو شوی. د جهاد تر نامه لاندی دی بی ننګه او بی بته ډلو داسی کارونه و کړل چی د دنیا هر بل جابر او ظالم ته یی برات ورکړ..

بد بختانه د نړی بل زبر ځواک یو ځل بیا دغه شرموشان او لوټماران د غرو له غارونو نه را وایستل او یو ځل بیا یی په افغان ولس حاکمان کړل. دوی چی لا پخوا د غلا او لو ټماری تجربه درلوده یوځل بیا یی د ملت شتمنی چور کړه او د ځان او اولادو لپاره یی په ملیاردونو ډالر ذخیره کړل. اوس په افغان ولس ملنډی و هی او د خپلو جنایتو ورځی لمانځی دوی باید پوه شی چی حتماً به افغان ولس له دوی سره حساب کوی. او که بیا هم افغان ولس و نشی کړای چی دوی د عدالت منګولو ته وسپاری نو د لوی خدای عدالت خو دوی ته انتظار باسی او دوی به په الهی محکمه کی د خپلو جنایاتو په سزا رسیږی.

افغان ولس نه تنها د ثور ۸ نه لمانځی بلکی ددی ورځی په ټولو اوبغاړو باندی نفرین وایی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ